د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه، 16 صفر، ۱۴۴۶هـ | ۲۰۲۴/۰8/21م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/6

مطبوعاتي اعلاميه

**افغانستان ته د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورټر پر راتګ بندیز د ستایلو دی؛ خو د «رأس الکفر» د نفوذ جرړې باید وایستل شي**

د افغانستان د حکومت ویاند له دویچه‌وله سره په مرکه کې اعلان کړه چې د ملګرو ملتونو د بشر حقونو ځانګړی راپورټر ریچرډ بېنېټ افغانستان ته له راتګه منع شوی. نوموړي ټینګار وکړ چې «بېنېټ د افغانستان پر وړاندې د پروپاګند لپاره مامور شوی و او داسې څوک نه دی چې پر خبرو یې باور وشي.»

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغي پرېکړې هرکلی کوي او هیله لري چې دا ډول پرېکړې تعمیم ومومي، لا پراخې او لا هر اړخیزې شي. ریچرډ بېنېټ د لویو دولتونو او بنسټونو د سیاستونو پلی کوونکی دی، خو په حقیقت کې امریکا او ملګري ملتونه «د کفر امامان» دي او د سیاسي اسلام د ځپلو، د کفري عقایدو دودولو او د مسلمانانو د منحرفولو اصلي عوامل ګڼل کېږي. نو د افغانستان حکومت باید د دغو کسانو پر هدف ګرځولو سربېره، د فساد، جنایت او کفر ریښې هم له منځه یوسي.

په داسې حال کې چې ریچرډ بېنېټ د ملګرو ملتونو مامور دی؛ خو له بده مرغه د دغه سازمان سیاسي استازولي (یوناما) لا هم په افغانستان کې فعاله ده. یوناما د غربي ارزښتونو او بشر حقونو په دودولو او د مسلمانانو په منحرفولو کې فعاله ونډه لري؛ په خپلو راپورونو کې په ښکاره پر اسلام برید کوي او د اسلام احکام «ظالمانه» بولي. د یوناما یوه دنده په افغانستان کې د بشر حقونو دودول دي، په داسې حال کې چې د بشر حقونه غیر شرعي مفهوم دی چې کفري ارزښتونه رانغاړي او د لویو قدرتونو لخوا د نفوذ او ځپلو د وسیلې په توګه کارول کېږي. په اوسني وخت کې د بشر د حقونو ادعا کوونکي د بشر د تاریخ تر ټولو ستر جنایتکاران دي.

نن مسلمانان د خلافت په نشت کې د غربي سیاسي نظم او بنسټونو په لومه کې ګیر دي. غربي بنسټونه په څو اړخیز ډول عمل کوي او د یوه فرد په محدودولو یې مخه نه شي نیول کېدی. غربي قدرتونه د «ګواښ او تطمیع» سیاست په کارولو هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ کړي او مجاهدین د اسلام له پلي کولو منحرف کړي. د بشر حقونو د څار سازمان د ښځو برخې مرستیالې، هیډر بار خبرداری ورکړی چې پر ریچرډ بېنېټ بندیز د کار پای نه دی او دوی به له نورو لارو خپل فعالیت ته دوام ورکړي. هغې په یو ډول مدني بنسټونو ته ـ چې له غرب سره ارزښتي، سیاسي او استخباراتي اړیکه لري ـ اشاره وکړه.

نو د افغانستان حکومت باید د دغو کسانو پر محدودولو سربېره، په اساسي ډول د غربي بنسټونو، نا دولتي سازمانونو (NGOs)، غربي پروسو او دغه راز د استعمار د اقتصادي او سیاسي نفوذ جرړې وباسي. دا چاره یوازې هغه وخت شوني ده چې دویم راشده خلافت دولت تاسیس شي او د نوي نړیوال نظم په حاکمولو سره اسلامي امت د هغو دولتونو او سازمانونو له څو اړخیزې محاصرې خلاص کړي چې «رأس الکفر» بلل کېږي.

**وَإِن نَّكَثُوا أَيْمَانَهُم مِّن بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ** [التوبه، ١٢]

**ژباړه:** *«او که دوی تر ژمنې وروسته خپلې لوړې ماتې کړې او ستاسې پر دین یې بد وویل (نو تاسو هم) د کفر له مخکښانو سره وجنګېږئ؛ ځکه دوی پر ژمنو نه درېږي، ښایي (د تورې په زور له ژمنې ماتولو او کفر څخه) لاس واخلي.»*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**